شهسوارسنګروال ۲۰۲۱/۱۱/۰۴

# په افغانستان د ربړګوني یرغلونه

## ۲۸مه برخه

د شاه حسین بایقرا (۱۵۰۶ ز کال) له مړیني وروسته د افغانستان په ګاونډ کې د نوو حکومتونو را ټوکېدل د هېواد لپاره یو بل نوی ګواښ وه، چې د هرات د تېموریانو واکمني یې ړنګه کړه.
شیباني خان د ۱۵۰۰ ز کال په مهال د تېموري ټولواکمنی ځنې سیمي لاندې کړې، په لومړي سر کې سمرقند ونیو چې ډېر ځله د مغلواکو پلازمېنه و.
نوموړي چې کله د سمرقند پوځونه را وپرځول او ځان یې پیاوړی کړ، نو بیا په ۱۵۰۶ ز کال له امو رود نه را پورېووت بلخ یې ونیو او ان تر هراته پورې سیمه یې وګواښله.
محمد خان شیباني په ۱۵۰۷ ز کال له مرو، مرغاب، اندخوی او بادغیس نه وروسته هرات کلابند کړ او د ګورګاني دولت ستنې ولړزولې.
هرات له لږ ځنډ نه وروسته ازبک ځواکونو تر خپلي ولکي لاندې راووست او کله چې په ښار ورننوتل، کورونه یې لوټ او تالان کړل. که څه هم د هرات خزانې ګورګاني امیرانو او درباریانو له ځان سره وړې وې، خو بیا هم د محمد خان شیباني لښکر د هرات شتمنو ته ګواښ وکړ، که چېرې تاسو هر تن سل زره مثقاله سره زررا نه وړل و به وژل شئ.
شیبانې خان په لومړي سر کې د سلطان حسین بایقرا د حرم سرای ټولي ښکلي او ښایسته نجوني او مېرمني پخپلو سردارانو ووېشلي او بیا یې د ښار ټول شته لکه سره زر، جواهرات، قیمتي ډبرې، مری او قیمتي غمي، وربېښميني جامې او نور قیمتي توکي او ځېزونه خپل کړل.
»محمد خان شیباني بیا خپلو ځواکونو ته وویل چې د ګورګاني شهزادګانو لټه وکړئ او له مینځه یې یوسئ. هغه وو چې د خراسان په ښارونو نیشاپور، مشهد، استر اباد، او نورو سیمو کې ډېر ګورګاني شهزادګان ووژل او شته یې تري لوټ کړل( )«.
محمد خان شیباني د هرات واک خواجه ابوالوفا ته وسپاره، خرمشاه تېموري یې د بلخ حکمران او د مشهد حکومت یې سید هادي ته ورکړ.
همدا رنګه د سمرقند او بخارا چارې یې خپلو زامنو محمد تېمور سلطان او عبدالله سلطان ته وسپارلي او پخپله دی په دې اند وه چې خپله واکمني پراخه کړي.
که څه هم د ځنې سیمو یو شمېر اوسېدونکي په ځانګړي ډول هغو وګړو چې ډېر زیانونه ګاللي ول او لا په صفوي پیر کې د مذهبي فاشیزم تر ګواښ لاندې ول، له صفویانو نه یې شیبانیان غوره ګڼل.
نو ځکه خو له محمد خان شیباني نه وروسته د مذهبي خواخوږی له مخې ډېر ازبکان بېرته لاړ نشول او په افغانستان کې مېشت او ودان شول .
شیبانیان په لومړي سر کې بیا هم په افغانستان کې له دري ستونزو سره لاس او ګرېوان ول. لومړی دا چې د افغانانو مقاومت د دوی د پرمختګ مخه ونیوله لکه د ګرمسیر او زمینداور د خلکو پاڅون.. .
که څه هم د دغي سیمي حکمراني د ارغون په کهاله پورې تړلې وه. او امیر ارغون د ابو سعید ګورګاني له نوکرانو څخه وه، چې شاحسین بایقرا د غور، غرجستان او زمینداور حکمران ټاکلی وه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

»شيباني د وروستي ځل لپاره په ۱۵۰۹ کال د «قبچاق» دښت حکمران قاسم سلطان سره جګړه وکړه ولې سخته ماته يې وخوړه. محمد خان چې کله په ګرمسېر او زمينداور کې ماته وخوړه په ۱۵۱۰ ز کال بېرته هرات ته ستون شو( )«.
د ارغون د مرګ نه وروسته د ده دوه زامنو شاه بېګ او مقيم ارغون چې ان تر سينده پورې واک درلود د بابر له وېرې يې له محمد خان شيباني سره روغه وکړه او د بابر زياتېدونګې ځواک د نومړوي لپاره يو ستر ګواښ وه.
بابر د ميرزا عمر شيخ زوی د سلطان ابو سعيد ګورګاني لمسی په ۱۴۹۳ ز کال (۸۹۹ هـ) په فرغانه کې چې د يوولس ۱۱ کالو وه په تخت کېناست. بابر په داسي مهال واک ته ورسېد چې د ده تره ميرزا سلطان احمد د سمرقند او ميرزا سلطان محمود د بدخشان او کندز واکمن ول.
دغه دواړه د بابر د ورور په شمول (ميرزا جهانګير) سره همغاړي نه ول، نو ځکه خو بابر له کورنيو ستونزو سربېره د شيباني خان له ګواښ سره هم مخ وه. د ماوراءالنهر په ځنو سيمو کې په ځانګړي ډول بابر چې په ۱۵۰۳ ز کال (۹۰۹ هـ) له شيباني ځواکونو سره مخ وو، ورته ځرګنده شوه چې له يوه پياوړي دښمن سره مخ دی، نو غوره يې وګڼله چې لومړی افغانستان ته مخه کړي.
هغه وه چې په لږ وخت کې له بدخشان نه نېولې تر کندزه پورې واک خپل کړ، خسرو ميمني ته وتښتېد او ميرزا بديع الزمان ته يې پناه يووړه.
بابر وروسته کابل ته مخه کړه، چې په دغه وخت کې د ميرزا الغ بېګ کوچنی زوی عبدالرزاق د کابل حکمران وه. محمد مقيم ارغون چې د بابر نه خبر شو، نو د يوه لښکر سره تر غزني پورې را د مخه شو، زور يې و نه رسېد. ولې د بابر ډېر پام د محمد خان شيباني لور ته وه، نو ځکه ډېر ژر مخ په کندهار روان شو او شاوخوا سيمې يې لاندې کړې.
د شيباني خان لپاره دريمه ستونزه د صفويانو واک ته رسېدل وه او صفوي پېر، د ايران د تاريخ په دغه پړاو کې يو ستر بنسټيز دوران ګڼلی شو چې د وګړو تر مينځ يې يو ځل بيا ملي يووالی ټينګ کړ.
د شاه اسمعيل صفوي د واک په مهال «شيعه مذهب» د دولت د رسمي مذهب په توګه ومنل شو او د يوه فرمان په ترڅ کې د لمانځه ادا او د روژې نيول د امامانو د مذهب په طريقه روا وګڼل. دوی د نورو مذهبي ډلو د ځپلو لپاره له هرې وسيلې نه ګټه واخسته ان دا چې د هرات د جامع جومات خطيب ته يې وويل چې حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر رضی الله عنه ته کنځل وکړه. ولې هغه دا و نه منله. صفوي سرتېرو دی له ړېرې ونيو او له منبر نه يې را وغورځوه. لومړی ړيره ترې وشکوله او بيا يې په ډزو وواژه. ور پسې اعلان وکړ چې که څوک د علي په کورنۍ کې د «امامت» دوام ته عقيده ونلري هغه به وژل کېږي.
په صفوي پېر کې د ايران اړيکې له هغو اسلامي هېوادو سره خړې پړې شوې چې د «سوني مذهب» پلويان او پيروان ول.
شيباني خان چې له ماوراءالنهر څخه را پورته شوی وه، د دغې سيمې اوسېدونکې، عثماني ترکيه، افغانستان او د مينځنۍ اسيا هېوادونه چې سوني مذهبه ول د صفوي شاه اسمعيل په وړاندې کړکه را وپارېده.
له يوې خوا د شيباني خان غرور، چې په پرلپسې توګه يې ماوراءالنهر او خراسان يو د بل پسې لاندې کړي ول او له بلې خوا له شيعه مذهب نه ناوړه ګټه د صفوي شاه اسمعيل لويه بې باکي وه چې د مذهبونو تر مينځ يې د نايووالي اور بل کړی وه. دواړه يو بل ته ګواښېدل. لومړی شاه اسمعيل، محمد خان شيباني ته يو استازی ولېږه چې ستا ځواکونو «مشهد، نيشاپور، استراباد... او کرمان لوټ کړي دي، د دې سيمو تاوان به را کوې او يا به په راتلونکې کې د دا ډول بريدونو مخه نيسې( )«.
محمد خان شيباني د ده د ځرګندونو په غبرګون کې ورغبرګه کړه، زه په نږدې راتلونکې کې حج ته ځم، په لاره کې به دې وګورم ...
اسماعيل صفوي په ډېرې سپکاوی وويل زه ډېر ژر سپېځلي مشهد ته ځم، هلته به دې هرومرو وګورم.
د شاه اسمعيل صوفي سترګې له يوې خوا مذهبي تعصب ور پټې کړې وې، ان تر دې چې: «د ده د دربار ملا په ډاګه کړې وه چې د يوه سني وژنه دومره ثواب لري، لکه څوک چې پنځه کافران له مينځه يوسي... له سني سره د شيعه مسلمان نکاح ناروا ده... که چېرې يوه سني مېرمن اميندواره وي خېټه يې ورڅيرې کړئ او ماشوم يې په نيزه ووهئ( )«...
له بلې خوا چې دی نوی واک ته رسېدلی وه کوښښ يې کاوه چې هم خپلو پلويانو او هم خپلو سيالانو ته د صفوي دولت واک او ځواک ور وښيي.
نومړوي د خپلو دښمنانو په مينځ کې داسې وېره خپره کړې وه، چې هېچا د سرغړونې وس نه درلود.
»صفوي شاه اسمعيل قزلباش د خپل واک د ښودلو لپاره د تبرېز ښار زره وګړي له تېغه تېر کړل. د هغې ګناه دا وه چې د اسلام درې لومړنيو (ابوبکر صديق، حضرت عمر، او حضر عثمان(رض)) خليفه ګانو ته يې کنځل و نه کړې. نومړوي د يو شمېر کسانو تنې غوڅې کړې، نسونه يې ورڅيرې کړل ان تر دې چې د مړو هډوکي يې له هديرې و ويستل او وې سوځول( )«.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کله چي عثماني ترکيه د تبريز له سوني ټولوژني خبرتيا ترلاسه کړه، دوی هم د کسات د اخستلو پلمه د «اناتولي» مېشت شيعه ګان چي شمېر يې لسګونو زرو ته رسېده، د «سلطان سليم» په فرمان ووژل .
ډاکتر شفا د قسطنطني د اتريشي استازي «يوزف هامر» له قوله کښلي دي؛
»د مسلمانانو د مذهبونو په تاريخ کي دا پېښه دومره دردوونکي وه، چي ساری يې  شپاړسي پېړی په ټولوژنو کي نشو ليدلی( )«.
د صفوي شاه اسمعيل او شيباني خان ګواښونو يو بل ته ډېر توند غبرګونونه را وپارول او شيباني خان لا جګړې ته تيار نه وه چي اسمعيل قزلباش خپلو سرتېرو ته وويل زمونږ او د ازبکانو پرېکړه به په توره کېږي.
نومونړی د يوه ستر لښکر سره د خراسان په لور وخوځېد.
شيباني خان له يوې خوا جګړې ته تيار نه وه له بلې خوا يې يو شمېر قومندانان د رخصتی په نوم کورونو ته تللی وه نو ځکه خو صفوي پوځونو د دوی تيت و پرک سرتېري  يو د بل پسي و ځپل. لومړی يې په مشهد کي د «امام رضا» زيارت وکړ او بيا د هرات په لور رهي شول.
د محمد خان شيباني نامتو جنرال «جان وفا ميرزايي» چي د سيال لوري ځواک وليد لومړی يې د هرات د ښار دروازې بندې کړې او بيا په دې هيله چي شيباني خان به يې مرستي ته را ودانګي، خو داسي و نه شول. هماغه وه چي دی هم د ماوراءالنهر په لور وخوځېد، په لاره کي د صفويانو له لښکر سره مخ شو. . .
که څه هم د «ميرزايي» پوځ ماته وخوړه، خو په دغه جګړه کي د صفوي اسمعيل يو نامتو جنرال هم ومړ. صفوي اسمعيل چي له خپلو پوځي سلاکارانو او پوځي کارپوهانو سره سلا وکړه، دې پايلي ته ورسېدل، چي له خپلي پوځي پلازمېني لرې نشي .نو بيا يې سيال لوري ته پاروونکی ليک واستوو چي زه خو له وعدې سره سم مشهد ته راغلم، خو که چېري ته د مکي معظمي زيارت ته تللي ما وګوره. زه نه غواړم چي ستا په مخ دروازې وتړم لکه ستا جنرال چي له وېري نه د هرات د ښار دروازې تړلي وې.
د محمد خان شيباني ويني په جوش راغلي او په دې اند، چي صفويان له ډاره ښېرته په شا شوي دي، پرته له دې چي خپلو پوځي سپه سالارانو ته غوږ کېږدي له مروی څخه وخوځېد .
کله چي د سيال لوري ځواک وليد او دا يې هم وليدل، چي تر شا يې څوک نشته نو له پنځه ويشت (۲۵) زرو د باور وړ پوځيانو سره ځای په ځای ووژل شول.
اسمعيل يانو چي د شيباني سر د صفوي شاه اسمعيل په مخکي کېښود نو  هغه ورته وويل چي تن يې چېرته دی؟ د نومونړي بې سره تن چي چېرته خاورو ته سپارل شوی وه له خاورو را ووېست او  هغه يې هم ورته راوړ.
ده ټولو  اسمعيلانو ته وويل هر څوک چي ما لمانځي او زه ورته ګران يم بايد د شيباني له تن نه يوه يوه مړی غوښه وخوري... هغه وه چي د ستړکو په رپ سره يې هغه وخوړ...
بيا يې وويل چي ککرۍ يې داسي جوړه کړئ چي د جام په څېرشي اوکله چي مې زړه شرابوته کيږي نوبيابه،دده په ککرکي شراب څښم.
د شيباني خان ککرۍ يې په سرو زرو وپوښله او کله به چي صفوي شاه اسمعيل شراب څښل نو د محمد خان شيباني په سر کي به يې ورته راوړل.
»محمد خان شيباني د ابراهيم زوی او د چنګيز د زوی جوجي له کورنی څخه وه، چي دا سماعيلانو لخوا په ۱۵۱۰ ز کال ووژل شو( )«.
د افغانانو يو دښمن د افغانانو د بل دښمن له لاسه ووژل شو. خو دغه دښمن هم لکه د افغانانو د نورو دښمنانو په څېر له افغان وژني نه لاس وانخست.
دغه خونړی دښمن شاه اسماعيل صفوي وه چي د ده لاسونه هم د افغانانو په وينو سره شول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ